بسم الله الرحمن الرحيم

# الجزایر؛ د فرانسې د نېشن سټېټوالي قرباني

الجزایر ۱۳۲ کاله ( د ۱۸۳۰م کال د جولای له ۵مې پیل شو او د ۱۹۶۲م کال تر همدغې نېټې یې دوام درلود) د فرانسې له لوري اشغال شوی و. د اشغال په دومره وخت کې له لسو میلیونو ډېر الجزایریان شهیدان او سلګونه زره نورو ټپیان، ورک او کور پرېښودو ته اړ شول.

فرانسویانو د الجزایر د خلکو د مطیع کولو لپاره له هرې لارې کار واخیست، موخه یې دا وه چې د دغه هېواد خلک له خپل اصل څخه لرې کړي او زور او سرچینې یې په خپله ګټه وکاروي.

فرانسویانو هلته د ښوونځیو د سیسټم د خپلولو لپاره کسان ولېږل، په ۱۸۳۶م کې یې لومړی کاتولیک ښوونځی پرانیست او په دې سره یې وغوښتل چې له خپلو د قدر وړ میراثونو سره د دغو خلکو اړیکه پرې کړي او اسلامي شخصیت پکې له ښخه ورک کړي. د همدغې موخې یې لپاره یې فرانسوي د دغه هېواد رسمي ژبه کړه، دا د الجزایر د خلکو میراثونو ته سپکاوی و او پر خپلو متونو له پوهېدو یې لرې کول.

په خلکو به یې د غلامانو په شان په معدنونو کې کار کاوه؛ د دوی معادن، نفت او زراعتي محصولات یې لوټول او په دې سره یې خپل اقتصاد پیاوړی کاوه. دغو اشغالګرو همداراز د الجزایر د خلکو پر وړاندې هر راز ظلم کاوه، شکنجه کول یې او ناوړه ګټه یې ترې اخیسته. په تاریخ کې د فرانسویانو له لوري د الجزایر د خلکو د زنداني کولو، د اوبو په څاګانو کې اچولو او برقي شوک ورکولو ثبوتونه پرېمانه دي.

طبیعتاً د فرانسویانو استعمار له مقاومت سره مخ شو، خو مقاوت کوونکي د دغو استعمارگرو له لوري سخت وځپل شول. په ۱۸۸۰م کې فرانسویانو د دغو مقاومت کوونکو له ډلې ۳۷ مجاهدین شهیدان کړل او د سر کوپړۍ یې وساتلې چې اوس د پاریس په منکایندۀ موزیم کې ساتل کېږي. د بېرته گرځولو په اړه تر اوسه ټولې غوښتنې رد شوې دي. معلومات ښیي چې له فرانسې څخه د ازادۍ اخیستو په جگړه کې لږ تر لږه دوه میلیونه الجزایریان شهیدان شوي.

د فرانسې وحشیانه ظلمونه یوازې په دې ختم نه شول. الجزایران څو ځله بیا د ازادۍ غوښتلو لپاره په اعتراضونو کې قتل عام شول، ان تر ۱۹۶۱ م کال پورې. د ۱۹۴۵م کال د مې میاشتې په ۸مه، وروسته له هغې چې نازي المان را وپرځېد، یوازې په دوو اونیو کې په سیتیف، گیولما او خېراتا ښارونو کې ۴۵۰۰۰ هغه اعتراض کوونکي ووژل شول چې د ازادۍ لپاره یې غږ اوچت کړی و.

فرانسویانو په الجزایر کې خورا زیات وحشت وکړ، په ۱۹۶۰ م کال کې یې ان الجزایر په جنوب لوېدیځ کې د هستوي وسلو ازمایښتونه وکړل. د نورو عملیاتو ترڅنگ یې گېربایس بلیو او بلو ډیزرټ د ۲۴۰۰۰ کسانو د وژل کېدو سبب شول او زرگونه نور یې د راډیو اکټیو د خوربدو په سبب په مختلفو ناروغیو اخته شول.

تاریخپوه، رافایل برانچ، لي موندو ته وویل: «په الجزایر کې د فرانسویانو د شکنجې له ماهیت څخه به هېڅکله انکار ونه شي». په ۲۰۱۷ م کال کې د بشر حقونو د دفاع د یوې الجزایرۍ اتحادیې د اټکل له مخې، په الجزایر کې د فرانسې استعمار تر ۱۰ میلیونو ډېر قربانیان لرل.

فرانسې ان په ۲۰۱۹م کال کې دا ومنله چې د الجزایر د ازادۍ غوښتلو په جګړه کې یې سیسټماټیکه شکنجه کړې ده. ډېری کسان دا استدلال کوي چې د جرم تش منل کفایت کوي، له تېر څخه باید درس واخستل شي او یوه نوې پاڼه راواړول شي، خو باید د دغه کار ریښه روښانه شي، دا چې دا ظلمونه ولې وشول؛ ځکه اوس هم نړۍ له عین حالت سره مخ ده. هغه ارزښتونه اوس هم شته چې استعماري فکر جوړوي. اوس هم هېوادونه د لا ډېر قدرت، واکمن اوسېدو او نورو موخو لپاره استعمار کوي. موږ دا ارزښت د کپیټلېزم په نامه پېژنو.

اسلام خلکو ته د جنس په سترګه نه ګوري او نه د خلکو د ژوند په اخیستو کې خپله ګټه ګوري. اسلامي نظام داسې یو ټولنیز نظم جوړوي چې لومړیتوب پکې د خلکو د مسوولیتونو او تعامل اسانول دي. تاریخ په دې ګواهي ورکوي؛ اسلام چې هرې سیمې ته تللی، د هغه ځای خلکو په خپله خوښه منلی. داسې هېڅ نه دي شوي چې اسلامي دولت دې کومه ځمکه استعمار کړې، خلک یې قتل عام کړي او شتمني یې لوټ کړې وي. برعکس، لیدلي مو دي چې د اسلام د اقتصادي پالیسیو له وجې لوږه ورکه شوې، خلکو تعلیم ته لاسرسی پیدا کړی، د حاکم د مسوولیت منلو له وجې خلکو ته روغتیایي خدمات رسېدلي او ټولنو ته یې فرصت برابر کړی چې په علومو کې پرمختګ وکړي.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ]**

**ژباړه:** «اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسو یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره رامنځته شوې ده. تاسو د نېکۍ امر کوئ او له بدو منع او پر الله ایمان لرئ. که دغو اهل کتابو ایمان راوړی وی، نو د همدوی لپاره ښه وه، که څه هم په هغوی کې ځینې دایمان خاوندان شته؛ خو د دوی زیاتره کسان له ایمان څخه سرغړوونکي دي»
[آل عمران: ۱۱۰]

اسلام د ټول بشریت د خیر او ګټې لپاره راغلی دی. الله سبحانه و تعالی خو دې د ظلم د دغو سببونو پر ځای د اسلام عالي سټنډرډ حاکم کړي او یو ځال بیا دې ژمنه شوی، د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره

## ملیحه حسن